# مور او زمور خپلواکي

مور پښتانه يو, او د هغو پښتنو پلرو زامن يو چي دوی هم پښتانه وو. پر پښتنواله زوکړي او پر پښتنواله مړه سوي دي.

مور پښتانه يو. په پښتنواله مو غاړه جګه ده. تل پخپله
پښتنواله وياړو او هيڅکله له پښتو او پښتنوالي څخه پرېکړه او ليري توب نه کوو ... !

مور پښتانه يو ... پخواني مېړونه مو پښتانه وه ... راتلونکي زامن به مو هم پښتانه او پر پښتنواله به مين وي .. !

هوکې ! مور پښتانه يو. پښتو او پښتنواله زمور د پخوانو مېړو او پلرو څخه راپاته ده او دا هغه زمور اولسي رشه ده, څو چي پښتنو ژوندی وي, پښتو او پښتنواله به نه پرېږدي او خپل ژوندون به په دغه پوړي تړلي بولي ... ! د پښتو او پښتنوالي يوه لو برخه او تر ټولو دروند ټوك هو هم "خپلواکي" ده او بېله خپلواکۍ د پښتنوالي ژوندون نه کيږي, او لکه چي ښايي د پښتنوالي ښيګړي نه سره غونډيږي, نو لکه چي پښتنواله زمور اولسي راپاته سوې ښېګړه ده دغسي هم خپلواکي د پښتنوالي سره سمه د پښتنو د ژوند ملګرې رشه ده, چي پښتنو تل د خپلواکۍ تر درانه سيوري لاندي په جګ مغزي ژوند کړی او کورتې د بل چا تر لاس لاندي والۍ او مريي توب نه مني ... ! خپلواکي او مريي توب ... دا دوه ډوله ژوندون دئ, چي تل پر نړۍ د سرو لمړی ډول خوښ دی, او له اوستري څخه تښتي, او د هيچا نه ده خوښه چي د بل چا تر لاس لاندي مريی وي.

د لومړۍ ورځي څخه چي سړي پر مځکه راوپاڅول او دوی ته يې د ژوندون ډيري ښېګړي ور وښندلې په هغو ښېګړوکي يوه "خپلواکي" ده. چي تل د سړو د ښه ژوندون ملګرې ده. هر څوك چي د څښتن دا ښېګړه بايلي, هغه له لوړتيا څخه کښته سي, او له برمه او پرتمه ولويږي نو د مريي په څېر ژوندون کوي او په ژوندون کي د هيڅ ښېګړي خاوند نه وي.

نو چي خپلواکي د لوی څښتن يوه داسي ښېګړه ده څکه نو پښتنو دغه د خپل ژوندون ستهٔګنلې ده او هيڅکله يې خپله خپلواکي له لاسه نه ده ايستلې.

که د اولسو د ژوندون ليك سوي پاڼي وپلټو, او له خورا زړو پېړيو د دې نړۍ د اولسونو په ژوندون کي ځارو سو, دا به راښکاره سي چي پښتون اولس يو له هغو لويو اولسونو څخه دئ چي تل دوی خپلې ويني د خپلواکۍ په لارکي توی کړي او پر نړۍ يې خپلواك ژوندون کړی دی. که چيري څوك پر دوی غښتلي سوي او د دوی خپلواکي يې څني اخيستي ده هلته هم د دوی ژوندون له هغو غښتلو سره تل په جګړه کي ؤ, او چا د خپلواکۍ اور د دوی له ټټرو څخه نه دئ مړ کړی.

وګورئ پېړی پېړۍ دمخه لوی د يونان اسکندر ټوله د آسيا مځکه ونيوله, او هر ځای يې بری وموند څو د خيبر په غرو او سيمه کې د پښتنوالي لغته داسي وخوړه چي د هند د ساتني بچ يې په ځان کي نه وليدی ... تر دې را وروسته زمور پښتنو اولسي مشران تل د پردو په مخ کي مزرو په څېر ولاړ وه, د خوشحال ختك جګړې د مغولو سره د بخښلي ميرويس خان نيکه د خپلواکۍ غوښتنو زيار, او بيا په دې وروستۍ پېړيو کي د توريالي اکبرخان او ښاغلي ايوب خان مېړاني دکابل او ميوند پر خواو دا ښه راته جوړه کړه چي پښتانه خپلواکي د ځان بولي, او بې له خپلواکۍ ژوندون نسي کولای, او خپلواکي د دوی اولسي ورپاته سوې ښېګړه ده څو چي پښتانه ژوندي وي ... او پښتنواله وي ... خپلواکي به هم وي او هيڅکله به دوی دا خپله مينه له لاسه ورنه کي.

د پښتنو د خپلواکۍ غوښتنه او د خپلواکۍ سره د زړه مينه هغه وخت ښه جوته کيږي چې څوك شل کاله دمخه زموږ د خپلواکۍ جګړه ور په زړه کي, او وګوري چي دې زمري اولس او د دې ښاغلي توکم ځلمو پ رخپله خاوره څه ويني هم توی نه کړي او د دې اولس مېړونه څنګه د جګړو پر ډګر لکه شنه زمري د غيلم مخ ته ودرېدل؟

هو کې ! زموږ د ښاغلي او بخښلي او توريالي برې مېندونکی اعليحضرت محمد نادرشاه شهيد د توري بريښنا او د ده د ورونو او نورو پښتنو مېړانه چې زموږ ګرانه خپلواکي شل کاله دمخه په تېر لاس راغله.

زموږ ځلمو ويني توی کړې ... زموږ مېړو توري و وهلې ... زموږ زمرو پر غليم پرتم واچاوه. زموږ د پښتو او پښتنوالي له پلوه موږ بيرته خپله زړه خپلواکي وګټله, او دا شل کاله کيږي چي خپلواك په برم کي ژوندون کوو, او هر کال د خپلواکۍ کالنۍ ښادي په داسي ډول او داي دودکوو لکه چي ورسره ښايي.

سږکال زموږ دګراني خپلواکۍ شلم کال دئ, دا شل کاله موږ د خپل توريالي او بريالي مشر, اعليحضرت محمدنادرشاه د توري په بريښنا کي سم ژوندون کړی دئ, دا شل کاله موږ د خپلو ځلمو د وينو توئېدو په ګټه د برم او درناوي خاوندان سوي يو.

نو راسئ چي لاس پورته کړو : د څښتن ټوله ښېګړي و خپل لوی ټولمشر بخښلي محمدنادر شاه او هغو پښتنو ته چي د خپلواکۍ په لارکي يې ځانونه بايللي, او موږ ته يې پخپلو وينو برم او لوړتياوي راګټلي دي يا يې زيارکښلی دی, تل تر تله د څښتن خوښې او ډول ډول ښېګړي وغواړو. او ښاغلی ځلمی ټولواك اعليحضرت محمدظاهرشاه پچي د خپلواکۍ ساتونکی دی او نور د دې خاوري غښتلي مېړونه چي تل يې د لوړتيا زيا رکاږي, له څښتنه دوی ژوندي او د بري خاوندان وغواړو, چي دا د پښتو خاوره او مېنه د خپلواکۍ تر سيوري لاندي لوړه او په برم وي او غليمان يې تل مخ توري وي.

تل تر تله دي وي زموږ خپلواکي !

ژوندی دي وي زموږګران ځلمی ټولمشر !

په برم دي وي پښتون ! [۱]

---

[۱] طلوع افغان, ۱۳۱۷ لمريز کال, ١٦ مه ګڼه, لومړی مخ.